# له رمضان څخه یوه او یا دوه ورځې مخکې روژه مه نیسئ، مګر هغه څوک چې عادتي روژې نیسي، نو هغه دې يې ونیسي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «له رمضان څخه یوه او یا دوه ورځې مخکې روژه مه نیسئ، مګر هغه څوک چې عادتي روژې نیسي، نو هغه دې يې ونیسي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان د رمضان د میاشتې څخه یوه یا دوه ورځې مخکې له روژه نیولو منع کړي دي؛ په دې نیت چې د رمضان په خاطر له احتیاط نه کار واخلي، ځکه چې د رمضان د روژې فرضیت د میاشتې د لیدلو پورې تړلی دی، نو تکلف ته په کې اړتیا نشته، مګر هغه څوک چې له وړاندې یې روژې نیولې لکه هغه څوک چې یوه ورځ روژه او بله ورځ بوزه کېږي، یا دوشنبه او پنجشنبه روژې نیسي نو بیا دې روژه شي؛ د رمضان لپاره د استقبال په خاطر څه نشته، همدا حکم د نورو واجبو روژو هم دی لکه قضایي او د نذر روژې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4508

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee